# انسان او شیطان

ژباړن: پوهنمل شفیق وردګ
لیکوال: رابرټ لوی استیونسن

بسم الله الرحمن الرحیم

# انسان او

# شیطان

ژباړن: پوهنمل شفیق وردک

لیکوال: رابرټ لوی استیونسن

د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم : انسان او شیطان
لیکوال : رابرټ لوي انستیونسن
ژباړن: پوهنمل شفیق وردګ
خپرندوی: اتحاد نو آوری چاپ خونه
ډیزاین : ربیع الله اکبری
چاپ وار : لومړی
چاپ شمېر: 1000
چاپ نېټه: ۱۳۹۴ لمریز ۲۰۱۵ میلادی
چاپ ځی: اتحاد نوآوری چاپ خونه کابل ، افغانستان
بریښنایي کوونکی عزت الله سلطانزی 0706912702
ویبپاڼه : باور کتابتون Bawar.net

---

دا کتاب د باور کتابتون څخه ښکته (ډانلوډ) شوی دی

Bawar.net

# ډالۍ

خپل کشر ورور ښاغلي محمد آصف وردک ته؛ چې:

عمر له به یې د احسانونو پوروړی یم.

# فهرست

ژباړن خبرې: ........ الف
لومړۍ څپرکی: ........ ۱
دويم څپرکی: ........ ۸
دريم څپرکی: ........ ۱۹
څلورم څپرکی: ........ ۲۱
پنځم څپرکی: ........ ۲۵
شپږم څپرکی: ........ ۳۱
اووم څپرکی: ........ ۳۹
اتم څپرکی: ........ ۴۳
نهم څپرکی: ........ ۴۷

# د ژباړن خبرې

له «انسان او شیطان» نومې دې کتابګوټي سره مې په زړه پورې خاطرې تړلې دي. د کراچۍ په قصبه موړ مسلم آباد کې اوسېدم. زما معمول و چې سهار به کار ته تر تلو مخکې په اخبار پسې تللم، مازیګر چې به له کاره راوزګار شوم؛ نو نور ملګري به مې مخ په کورونو او کوټو شول او زه به د کتابونو پر ګاډیو ګرځېدم. ماښام تېر به و؛ چې د کتابونو له ګاډیو به ووتم، یو نیم اخبار، مجله او کتاب به مې پکې خوښ شو؛ راسره وابه مې خیست.

د ۱۳۷۶ د ورې د شپاړسمې پر مازیګر د عادت له مخې د کتابونو پر ګاډیو ګرځېدم، چې دا کتاب مې ترسترګو شو، له کتابپلوره مې یې د بیې پوښتنه وکړه ویل یې پنځه روپۍ. پر دې ورځ مې یو سل څلوېښت روپۍ ګټلې وې، ما ویل نن یې یوسل پنځه دېرش سهي. کتاب مې واخیست کوټې ته چې راغلم سره له دې چې ستړی وم، خو پاڼې مې یې هسې اړولې را اړولې چې څه پکې دي. څو لومړي پارګرافونه مې چې یې ولوستل خوند یې راکړ، هماغه شپه مې تر پایه ولوست، دوه درې شپو کې مې وهم ژباړه.

له کراچۍ نه چې پېښور او بیا کابل ته راغلم، نو پوهنتون شو، پسې وظیفه او بیا د ژوند لوړې ژورې شوې. کتاب او ژباړه دواړه مې هېر شول خو له نېکه مرغه چې ساتلي مې وو.

دا دې اټلس کاله وروسته پرې بیا راوګرځېدم، ومې ولوست، کمپوز مې کړ او د ښاغلي شهاب الرحمن اشرف کور ودان چې د نورو د لوست جوګه يې کړ.

پوهنمل شفيق وردک

کابل پوهنتون، ژورنالیزم پوهنځی

۱۳۹۴ د مرغومې لومړۍ

# لومړی څپرکی

زه اوس په خپله اصلي بڼه یم؛ یانې «ډاکټر هنري جیکال» . په مخامخ هنداره کې خپل ځان وینم او د یوه ښه انسان غوندې فکر هم کولای شم. شیبه وروسته به رانه «ایډورډ هاییډ» جوړ شي او «هنري جیکال» به د تل لپاره ختم شي.

د خپلې کیسې د اورولو لپاره راسره وخت ډېر لږ دی، بیړه باید وکړم، څه چې راباندې تېر شوي؛ ویې لیکم. نه پوهېږم چې دا لیکنه به مې څوک ولولي او که نه؟

خو وېرېږم چې که د ایډورډ هاییډ لاس ته ورشي؛ نو له څیرلو او ایسته غورځولو پرته بل څه به ورسره ونه کړي، بیا به نو هېڅوک پوه نه شي؛ چې ما ځان په څومره عذاب اخته کړی و.

اووووف.....!!! په دې عذاب دې؛ چې زه یې ګالم هېڅوک اخته نشي.

اوس ټوله کیسه کوم.

هغه شپه مې ښه په یاد ده، چې لومړی ځل مې د خپل لاس جوړ درمل وڅښل.

دا داسې درمل وو، چې زما شخصیت به یې اړاوه.

چې وبه مې څښل، نو له ما (ډاکټر هنري جیکال) نه به «ایډورډهاییډ» جوړ شو.

د لندن په مشهورو او نامتو ډاکټرانو کې حسابېدم، ډېر ناروغان مې لرل، چې شپه او ورځ به راروان وو. مایه یې هم په درملنه کې ډېر زیار ایست.

یو ماښام چې د ناروغانو له کتنې وزګار شوم، لا په کتنځي کې وم، چې یوه ځوانه میرمن راننوته، په غېږ کې یې یو ماشوم و، چې له بنې ناروغ ښکارېده.

و مې وکوت، درمل مې ورکړل، چې څنګه یې وخوړل، په سترګو یې رڼا شوه او په خندا شو.

مور یې په اوښلنو سترګو راوکتل او راته یې کړه:

«ډاکټر صاحب! تا خو مې زوی له مرګه وژغوره. زه به ستا دا احسان څرنګه پوره کړم. ما خو ویل چې بیا به یې غړېدلې سترګې ونه وینم، خو افسوس چې فیس راسره نشته»

د لاس په اشاره مې غلې کړه او ورته ومې ویل :

« هېڅ اندېښنه مه کوه. ما لپاره دا غټه خبره ده، چې ستا وړوکي زوی وخندل، بویې څه او ویده یې کړه، ارام ورته پکار دی».

میرمن د مننې په ویلو ووته.

ما هم دروازه وتړله. چې د حویلی پر لور ورستون شوم، نو پر خپل نوکر «پول» مې سترګې ولګېدې، چې له دروازې سره ولاړ و او ځیر ځیر یې راکتل.

په ډېر ادب يې وويل:

« ښاغليه ! نن ډېر ستړي ياست، ارام بايد وکړئ »

ساعت ته مې وکتل، رښتيا هم نننی ورځ له معموله څه اوږده وه.

رښتيا وايې پول!

بس نو ډوډی تياروه، چې ويې خورم، په ازمېښتخونه کې بايد د شپې تر ناوخته کار وکړم.

«سمه ده صيب» يې وويل، روان شو، خو په لنډو راستون شو او راته يې کړه :

«ډاکټر صاحب! څومره مهربان ياست، د خلکو څومره درناوی کوئ».

دا يې وويل او له خونې ووت.

د «پول» تر وتلو وروسته، دې فکرونو واخيستم چې؛ که ده ته زما د شخصيت د هغه بل اړخ؛ چې تر اوسه مې پټ ساتلی پته وای، نو دا خبره به يې نه وای کړې.

هغه بېچاره گی خو ما ښه سړی گڼي، زما د شخصيت له بل اړخه څه خبردی. هغه په دې فکر کې دی، چې زه په خپله ليبارتړی کې د داسې درملو پر جوړولو بوخت يم؛ چې خلکو ته به سکون او روغتيا وربښي.

«پول» بېچاره څه پوهېږي، چې اصل حقيقت بل څه دی.

ليبارټری ته ننوتم، هوا ډېره سړه وه، په بخاری کې اور بل و او لمبو يې پر دېوال عجيب سيوري او نقشونه جوړول. پر کار مېز مې د شېشې په يوه ګيلاس کې د وينې غوندې يو سور رنګه محلول پروت و. دا نو هغه حيرانوونکي درمل وو، چې ځمتو کولو ته يې زه ډېر بېړې اخيستی وم. ګيلاس ته نژدې سپين رنګه پوډر هم پراته وو. دا پوډر مې؛ چې زما د ازمېښت لپاره ډېر اړين وو، له يوه درملتونه چې څومره پکې وو؛ ټول راوړي وو. حيرانوونکي درمل مې تيار وو، بس يوازې دومره چې پوډر پکې ورګډ کړم.

زما درمل رښتيا هم حيرانوونکي وو، تر ما مخکې هېچا هم داسې درمل نه وو جوړ کړي.

په دې سره به زما شخصيت بلکل واوړي. له ډېردې مودې راهيسې مې د دې درملو د جوړولو زيار ايستلی و، پرله پسې ازمېښتونه مې کړي وو. اخردا دی نن بريالی شوم.

درمل مې مخې ته پراته وو، يو شېبه مې ورته ځير ځير کتل. د دې حيرانوونکيو درملو کمال دا وو، چې زما د شخصيت ښه او بد اړخونه يې سره جلا کول او زه يې پر دوو جلا کسانو چې يو ښه او بل بد و؛ وېشلم. ښه به داسې ښه وي چې د بدی خيال به يې هم په زړه کې نه ګرځي او بد به داسې بد وي چې له نېکی سره به يې د چا خبره د سپي او د فقير وي. هر جرم او بدي به کوي، خو ښمنه او پښېماني به پېژني هم نه....

په همدې فکر کې ناست وم. ټول دوستان، مخالفان او د نظر خاوندان مې یو یو په ذهن کې راڅرګندېدل، چې زما پر دې نظریې به یې خندل چې: « هر انسان دوه جلا شخصیتونه لري، یو ښه او بل بد. په دې دواړو کې جلاوالی هم راتلای شي، داسې جلاوالی چې هر یو شخصیت یې ظاهري وجود هم ولري».

په ما او زما دې نظریې پورې په خندېدونکو کې، مې یو ډېر ښه دوست «ډاکټر لین ین» هم شامل و.

د سره محلول ګیلاس ته مې لاس کړ او له سپینو پوډرو مې کې پکې لړ لړ اچول، تپ ترې پورته شو، پر اور مې کېښود، د اوبو غوندې وخوټېده، شېبه وروسته درمل تیار شول.

ګیلاس مې پورته کړ، پوهېدم چې ددې درملو په ښلو تر مرګه هم رسېدای شم، خو څه مې کړي وای؛ ازمېښت و. ګیلاس مې پر شونډو کښود او لکه وینه تک سور محلول مې پر سر راواړاوه.

ډېر زیات یې وځورولم، ان چېغې یې راته وایستې. داسې مې احساسوله لکه د بدن دننه چې مې اور بل شوی وي، هډوکي مې سم ماتېدل، داسې رپېدم لکه تېز باد چې د ونې پاڼې رپوي، ډېر زیات په تکلیف شوم، دومره چې ان مرګ ته مې هم غاړه کېښوده....

ناڅاپه دا حالت بدل شو او داسې مې احساس کړه، لکه یو نوی وجود چې راکړ شوی وي. ځان راته ډېر ځوان او چست و چالاک ښکارېده، فکر مې کاوه؛ څه چې وغواړم کولای یې شم.

هنداري ته چې مې وكتل نو مخكې مې بالكل يو نوى كس ولاړ و. قد يې تر ما ډېر ټيټ و، دومره ټيټ؛ چې زما د كورتى لستوني يې ان د لاسونو تر گوتو اوږده وو. داسې ښكارېده لكه زوى چې د پلار جامې اغوستې وي. يوازې قد مې وړوكى شوى نه و، عمر مې هم كم معلومېده. جوسه مې هم په ډېره حيرانوونكې بڼه اوښتې وه، د سر وېښته مې گڼ او شخ شخ و، له وړو او تنگو سترگو مې د شرارت او بې حيايې بځري بادېدل، پزه مې بې ډوله او غاښونه مې راوتلي وو . د شخصيت په دې نوې بڼه ډېر بد ښكارېدم؛ خو خپه ورته نه وم، ولې به خپه كېږم؛ همدا مې د شخصيت بد اړخ دى، چې نن يې په هنداره كې وينم، تر دې دمه مې پټاوه، خو اوس راڅرگند شو. پر خپل دې بد شخصيت مې «هاييډ» نوم كېښود. «ښاغلي ايډورډ هاييډ».

له څوكۍ پاڅېدم، په كوټه كې مې ورو ورو قدمونه اخيستل شروع كړل، اوس مې نو كړه وړه هم بل ډول وو. «ډاكټر هنري جيكال» لوړ هډور او مضبوط كس و، ورو ورو او درانه قدمونه به يې اخيستل، خو «ايډورډ هاييډ» ډېر چالاكه او گړندى و، د ده يوه ځانگړنه همدا چالاكي وه.

له بدن او بڼې سره سره مې اواز هم بدل شوى و. په هنداره كې تر كتلو وروسته، خپل مېز ته كېناستم، ليک مې پيل كړ، خو حيران په دې شوم؛ چې د ليک په طرز كې مې ذره بدلون هم نه و راغلى. بس له دغه يوه حالته پرته نور هر څه مې اووښتي وو. اوس نو

هېچا نشو ویلای چې «ډاکټر هنري جیکال» او ښاغلی «ایډورډ هایډ» یو دي.

کرۍ شپه مې په دې سوچونو کې رنه کړه، چې د «ایډورډ هایډ» په حیثیت زه څوک یم؟ سهار رڼا ورو ورو خپرېده، فکر مې شو چې «پول» به اوس پاڅېدلی وي او د سهار چای لپاره به د ډاکټر «هنري جیکال» په تمه وي. بېرته باید د «هنري جیکال» شخصیت ته واوړم. خو پر دې هم نه پوهېدم یا باوري نه وم؛ چې دا درمل به مې بېرته پخواني حالت ته ستون کړي او که نه؟

ژر ژر مې په ګیلاس کې سور محلول واچاوه، سپین پوډر مې پکې ورزیات کړل او ومې څوڅاوه. د مخکې په شان تپ یې وکړ، پر سر مې راواړاوه. داسې شوم لکه څوک چې مې ځبېښي او هډوکي مې ماتوي، شېبه وروسته مې درد ارام شو او چې هنداري ته مې وکتل نو په مخکې مې د ډاکټر «هنري جیکال» مهربانه څېره ولاړه وه، پوه شوم چې بېرته خپل اصلي شخصیت ته راګرځېدلی یم.

## دویم څپرکی

پر دویمه ورځ ډېر ناروغان راغلل. کتل مې درمل مې هم ورکول، خو ذهن مې د «ایډورډ» په باره کې مې په فکر بوخت و. هغه (ایډورډ هاییډ) اوس یو حقیقت و، په دنیا کې ورته باید ځای برابرکړم.

پر درېمه ورځ ماسپښین مهال مې کتنځی وتاړه او مخ په بازار شوم؛ چې «ایډورډ هاییډ» ته جامې واخلم. د هغه قد ټیټ و ؛ په کار ده چې لنډې جامې ورته واخلم. د جامو اخیستو پر مهال راته فکر راولوېد؛ چې د هنر ي جیکال په پرتله ایډورډ هاییډ دومره کوچنی او ځوان ولې دی؟

تر څه ځنډ وروسته یې په لامل پوه شوم، هغه ځکه چې ما ټول عمر په شرافت او درنښت کې تېر کړی او زما په باطن کې چې کومه بدي ده؛ هغې د راڅرګندېدو لپاره ډېره موقع نه ده موندلې، نو ځکه زما بد شخصیت دومره غښتلی نه دی؛ لکه ښه هغه مې چې دی.

د ایډورډ هاییډ لپاره مې ښې قیمتي جامې واخیستې، داسې جامې چې د مېلمستیاو او شپې بلنو لپاره برابرې وې، دا کار مې ځکه وکړ چې د ایډورډهاییډ د تګ راتګ لپاره یوازې شپه مناسبه وه، د ورځې یې راڅرګندېدل ناممکن وو.

کور ته په رارسېدو مې «پول» او خپله بله خدمتګاره «ایمنیډا» راوغوښتل او ورته ومې ویل:

« ایډورډهایډ نومې یوکس به دلته ځي راځي، کونجیانې مې ورکړي هر وخت چې یې زړه وغواړي تلی را تلی شي، تاسې به یې ډېر خیال ساتئ او څه چې وایي همغسې به کوئ، پوه شوئ!»

« هو صیب» دواړو په یوه اواز وویل.

خو «پول» ته مې پام و، چې له کوټې واته؛ نو په مخ کې یې د حیرانی نښې جوتې وې. په ما کې؛ چې تل یوازې اوسېدلی وم، دا بدلون هغه ته بې څه ښکاره نه شو.

پر هماغه شپه مې خپل حقوقي وکیل «اټرسن» هم راوغوښت، چې راغی نو پول نیغ زما کوټې ته راووست.

« السلام علیکم ښاغلی جیکال! څنګه یې؟ ځان دې دومره بوخت کړی، چې د ناستې پاستې لپاره هم وخت نه لرې، ایله بیله چې دې نن راوغوښتم».

« هو، اټرسن رښتیا وایې، خو باور وکړه که د سرګرولو ته وزګارېږم، راځه کښېنه د خپل وصیت لیک په اړه مې درسره مشوره کوله» .

«تا خو وصیت لیکلی دی».

« هو؛ خو یو څه بدلون ته مې په کې زړه دی»

اټرسن ته مې یو کاغذ وروړاندې کړ او ورته ومې ویل:« دروا خله دا زما نوی وصیت لیک دی».

اټرسن کاغذ واخیست وبې لوست، بیا یې ماته وکتل او ورو یې وویل: « دا دې څه لیکلي چې تر مرګ وروسته دې ټوله شتمني ستا دوست ایډورډهاییډ ته ورکړله شي!!!!

زه پوه نشوم».

«هو ربښتیا! دا دې هم لیکلي چې که زه تر دریو میاشتو کومې خوا ته ولاړم، نو بیا هم زما هر څه د ایډورډ هاییډ دي».

«هو اټرسن! همداسې غواړم».

«دا خو سراسر لېونتوب دی». اټرسن تور وشین شو وبې ویل: « دا هاییډ دی څوک؟ لومړی خُل ستا له خولې دا نوم اورم».

«ته یې نه پېژنې دا زما نوی دوست دی، یو زلمی دی چې ډېر راباندې ګران دی».

«خو؛ هنري! یو په یوه دومره ژوره ملګرتیا. ما ته ووایه ،څه بله خبره خو نشته؟

دې سړی خو به د وصیتلیک بدلون ته اړیستې نه یې؟»

ورته ومې ویل: « نه، نه اټرسن داسې هېڅ خبره نشته »

اټرسن غلی شو، خو لږ وروسته یې وویل: « ستا د یوه وکیل په توګه مې نه خوښېږي، چې داسې وکړې».

« خو زه همداسې غواړم او دا مې وصیت دی».

« ښه نو چې ته یې وایې سمه ده»

اټرسن وویل: «زه دا پاڼه له ځان سره وړم که څه درپیښ شول، نو له دې وصیت سره سم کار به وکړم، خو بیا وایم چې سم راته نه ښکاري»

اټرسن دا وویل او پورته شو.

هغه مې یو ښه دوست او لایق وکیل و. ما چې فکر وکړ خبره یې سمه وه، دا لیونتوب نه دی نو څه دی، خو ماته چې دې لېونتوب کوم خوند راکاوه، په هغې یوازې زه پوهېدم.

اټرسن چې ولاړ؛ نو زه هم خپلې ازمېښتخونې ته شوم او هغه جامې مې چې په بازار کې اخیستې وې راوایستې چې ویې ګورم. بیا مې ځانګړې درمل چمتو کړل او پر سر مې راواړول، په بدن مې لړزه ننوته او د درد سخت څپه راباندې راغله، خو شېبه وروسته آرام شوم. اوس مې نو شخصیت اوښتی و او له ډاکټر «هنري جیکاله» پر «ایډورډ هایډ» بدل شوی وم.

سمدلاسه مې نوې جامې واغوستې امسا ته مې لاس کړ او له ازمېښتخونې مخ پر سړک شوم.

اوهو! څومره ازاد یم، څومره خوند کوي- هغه سړکونه چې تل پرې ځم راځم، هغه خلک چې تل یې وینم، خو هغوی مې نه پېژني بلکې زه ورته یو پردی یم، هغه نېک او ښه ډاکټر هنري جیکال چې د ښار خلک یې پېژني، اوس نشته.

پر سړک روان وم، په يوه موړ کې مې ټانګه مخې ته راغله، ورترپ مې لګل او سم دم پکې کېناستم.

ورته ومې ويل: « سوهو ته ځم؛ خو پام دې وي چې بيړه مې ده».

ټانګوال وويل « په سترګو ښاغليه!».

د سترګو له کونجونو چې مې ورته کتل، نو پوهېدم چې ښه پرې ونه لګم.

ټانګه د سوهو پر لور روانه وه. دا په لندن کې تر ټولو بدنامه او هوسناکه سيمه ده، چې زما ډېره خوښېده. د ډاکټر هنري جيکال په شخصيت کې څو واره ورغلی يم، هر وار به مې زړه درزېده چې څوک مې ونه وپېژني، خو اوس راسره دا وېره بالکل نه وه. اوس زه ايډورډ هايډ وم چې د عياشۍ لپاره راوتلی وم.

ټانګه ودرېده.

«سوهو راورسېده ښاغليه!».

ما ترې او چت ټوپ کړ، پر زمکه ودرېدم .

له جېبه مې څو سيکې راوايستې او ورشغی مې کړې چې هن دا دې کرايه.

ټانګوال برګ برګ راوکتل، خو څه يې ونه ويل، مخه يې وکړه، په تياره کې مې له سترګو پناه شو.

په سوهو کې مې ډېره خوندوره شپه تېره کړه، شراب مې په مړه ګېډه وڅښل، ښې نشې تماشې مې وکړې، خلکو رانه ډېره کوله، چې ورورانديې به شوم؛ نو يوې و بلې خوا ته به شول، مخه به يې راکړه. ما به له دې هم خوند اخيست.

د شپې لمن په ټولېدو وه. د سوهو شراب خونې يو په بل پسې تړل کېدې، خو زه لا تيار نه وم، چې د ډاکټر هنري جيکال کور ته ولاړ شم، لږې نورې تفريح او ساعت تېرۍ ته مې هم زړه کېده.

په کوڅه کې لړ و بر کېدم، ناڅاپه مې سترګې د يوه کور پر دروازه؛ پر لګېدلې ډېره ونښتې چې پرې ليکلي وو: « کوټې؛ د کرايې لپاره وزګارې دي».

له ځان سره مې وويل ايډورډ هايډ ته اوس يو کور هم په کار دی چې دايې تر ټولو ښه ځای دی.

پر دروازه د لګېدلي زنګ تڼۍ مې کېکاږله، د پاسني پوړ له کړکۍ د يوې ښځې غږ راغی.

- « څوک يې؟ »

ما ويل: « کرايې کوټه مې په کار ده».

- «سمه ده وبه يې ګورم».

- « همدا اوس يې وګوره »

ښځې د غوسې او حيرانتيا په ګډ حالت کې راته وويل: « کوم شريف انسان دومره په تياره کې له کوره وځي، چې ته په کرايي کوټې پسې راغلی يې!»

ما ورته په غوسه کې وويل:« بس زه يې همدا اوس ګورم. همدا اوس».

شيبه وروسته يوه سپين سرې ميرمن راغله دروازه يې پرانيسته، سر تر پايه يې له سترګو تېر کړم، ورو غوندې يې وويل: «دا خونې همدا ستا په څېر خلکو لپاره مناسبې دي».

پاس يې وخېژولم، کوټې يې راته يوه يوه وښووه، ما چې وليدل کوټې وړې وې، کړکی يې هم خوندورې نه وې، خو زما يې پروا څه. ما ته خو همدومره ځای په کار دی؛ چې له هنري جيکال کره مې زړه ونه شي، نو پکې پاتې شم.

« ښه سمه ده ». سپين سرې ته مې د يوې مياشتې کرايه ورکړه او کوټه مې ترې ونيوله.

ورو غوندې يې وپوښتلم: «څه نوميږې؟ ښاغليه!»

ژر يې پسې غبرګه کړه: « يوازې نوم دې را وښايه نور مې درپورې کار نشته»

«زه ايډورډهايډ يم»

د کوټې کونجیانې مې ترې تر ګوتو او جیب ته مې کړې. دا کار چې مې بشپړ شو؛ نو د هنرې جیکال د کور پر لور روان شوم.

اوس نو سهار و، ټول لندن راویښ شوی و، ټوله شپه مې رنه کړې وه خو بیا مې هم ستړیا نه احساسوله، ښه چست و چالاک وم، تېز تېز قدمونه مې اخیستل، یو ماشوم مخې ته راغی.

پورې مې واهه چې لر شه له مخې مې!!

ماشوم د لرې کېدو پر ځای؛ ولوېد.

د دې پر ځای چې راپورته یې کړم، پښه مې پرې کېښوده او ترې تېر شوم، ماشوم کړیکې کړې.

ځان مې پرې پوه نه کړ.

له شا مې یو ځواکمن لاس په څټ کې ولوېد، رایې ښکلم، چې ور ومې وکتل؛ نو یو لوړ دنګ سړی مې ولید.

له مټه یې ټینګ ونیولم: «دا دې څه وکړل؟ په سینه کې دې زړه دی که ډبره؛ چې ماشوم دې له پښو لاندې کړ او ورته ودې هم نه کتل».

په سترګو کې یې غوسه او کرکه له ورایه برېښېده.

له خبرې راته بلدې ښکاره شو، خو ځای ته مې رانه وستی شو؟

زموږ په زوره خلک راټول شول، د ماشوم پلار هم راپیدا شو، زوی یې پورته کړ. په دې کې یوه په ډاکټر پسې منډه کړه.

ماشوم لا هماغسې چیغې وهلې، ډاکټر راورسېد، و یې وکوت بیا یې ماته مخ کړ:

«ته څوک یې؟ ښاغلیه!»

«ایډورډهاییډ یم»

ښه، ښاغلي هاییډ دا ماشوم چې دې دومره ځورولی، د دې تلافي به څرنګه کوې؟

ورته ومې ویل: «یو رنګه هم نه».

هدور کس چې رانیولی یې وم، وغړمبېد: «چې نه یې کوې هاغه مخامخ پولیس دي، ورځه ورسره سپینه یې کړه».

« هو بالکل سمه ده» د هلک پلار راغږ کړ.

بیا یې پسې زیاته کړه« د داسې خلکو یوازینی علاج زندان دی».

د زندان په اورېدو مې سپینې وښویېدې.

ورته ومې ویل: «نه! نه !!!! تاسې خو لږ ودرېږئ، پولیسو ته اړتیا نشته، مه مې تنګوئ، هن واخلئ؛ څو روپۍ درکړم؟»

هدور وویل « سل پونډه، د دې ماشوم کورنۍ ته باید سل پونډه ورکړې»

زموږ ګرد چاپېره خلک سخت په غوسه وو، يوه خو لا زما د وهلو او ټېل ماټېل هڅه هم وکړه، دا خو لا څه چې ان مرګ ته مې هم تيار و.

دا حالت چې مې وليد، نو ډاکټر، د ماشوم پلار او هغه بل هډور مې له لاسه ونيول د خلکو له منځه رابهر شو. له خطره چې يو څه ووتم، نو ورته مې کړه: « سمدلاسه خو سل پونډه نلرم، که کتنځې ته مې راسره ځئ؛ نو د سلو پونډو چيک(حواله) به درکړم».

راسره ويې منله، ازمېښتخونې ته مې راوستل، خونې ته ننوتم ور مې په ځان پسې بند کړ، د هنري جيکال مېزته کېناستم د هغه چيک بک مې راوايست او د سلو پونډو چيک مې لاسليک کړ، خو د لاسليک پر مهال مې خندا ټينګه نه کړی شوه.

شېبه وروسته راووتم چک مې هډور سړي ته ورکړ، هغه چيک ته ځير شو راويې کتل او په اريانتيا يې وويل: « پر دې چيک(حواله) خو د ډاکټر هنري جيکال لاسليک دی، زما د تره زوی «ګبريل اټرسن» يې قانوني وکيل دی، هغه خو ډېر شريف انسان دی، هېڅکله به درسره دا ونه مني».

بنه! بنه!!!، دا هډور مې هم وپېژاند، له اټرسن سره مې ځو واره په پارک کې ليدلی و.

ورته ومې ويل: « دا چيک بالکل سم دی، که باور مو نه راځي چې بانک ته هم درسره ولاړ شم».

لنډه داچې بانک ته ولاړو، چیک مو دننه کړ، هیچا پکې څه ونه ویل، سمدلاسه یې پیسې راکړې. سل پونډه چې یې واخیستل؛ نو خلک نور هم حیران شول.

څه سر به مو خوړوم هغوی مې هلته پرېښول، زه ترې راروان شوم. ډېر خوشحاله پر دې وم، چې ایډورډ هایډ هر څه وغواړي کولای یې شي، خو سزا به یې ډاکټر هنري جیکال ګالي.

# دریم څپرکی

د ماښام ډوډۍ ته ناست وم چې د دروازې د زنګ وکړنګېد. «پول» دروازه پرانیسته، بېرته راغی، «ویل یې ښاغلی اټرسن دی، غواړي درسره ووینې».

ما ویل: « رایې وله»

زه د خپل پخواني دوست په لیدو له ډېرې خوښۍ ودرېدم، لاس مې د سټرې مشې لپاره ور اوږد کړ، خو هغه دومره خپه او ستومانه و چې ما ته یې ان کتل هم نه.

«هنري، غواړم یوه ډېره ضروري خبره درسره وکړم، زما د تره زوی «رچرډاینفیلډ» راته نن د ستا د نوي دوست «ایډورډهایډ» د بېګانی دردوونکې پېښې کیسه وکړه».

ما هم ورسره سر وخوځاوه او ومې ویل : « هو، خبر شوم چې یوه معمولي شان پېښه شوې ده».

« معمولي پېښه!»اټرسن په اریانتیا وپوښتل.

دا خو ډېره دردوونکې پېښه وه، ته یې لا وړه بولې! «اینفیلډ» هر څه په خپلو سترګو لیدلي، «هایډ» یو ماشوم تر پښو لاندې کړ، ورته ویې هم نه کتل که اینفلیډ نه وای راستون کړی؛ نو ترې تللی و».

د لاس په اشاره مې اټرسن ته وویل، «بس تېرېږه ترې، توره تیاره وه، څوک پوهېږي چې څه شوي دي.»

اټرسن سر وخوځاوه او ویل یې: « نه هنري! زه یې هېڅکله نشم هېرولای، تا ته مې اندېښنه ده، ډاکټر «لین ین» هم خپه دی، سپینه یې درته وایم له دې سړي سره ستا ملګرتیا هېڅ نه ښایي».

د اټرسن پر غاړه مې لاس واچاوه او ورته ومې ویل :«اندېښنه مه کوه کله چې وغواړم ایډوردهایډ له دې ځایه پسې اخیستی شم، دا مې درسره ژمنه ده، په دې اړه نور څه هم درته وایم؛ خو لږ وروسته، سمدلاسه ترې تېر شه».

اټرسن وویل: ښه نو ستا د وصیت به څه کېږي؟ تا چې په وصیت کې د مړینې او یا بلې پېښې په صورت کې خپل هر څه په دې سړي پسې کړي دي، هغه خو په هېڅ صورت نه غواړي چې ته دې ژوندی واوسې. هنري دا ګوره ډېره خطرناکه خبره ده».

« نه ... نه اټرسن! هایډ لا زلمکی دی، باید پرې یې ږدو چې ډېر څه زده کړي، ډېر راباندې ګران دی. ژمنه راسره وکړه څه چې مې په وصیت کې لیکلي، هماغسې به کوې»

اټرسن اوږده ساه واخیسته: « خیر ته خو یې نه منې، خو دا کار دې زما خوښ نه دی».

مخه ښه یې واخیسته، بېرته راستون شو او راته یې کړه:« غواړم له دې نوي دوست سره دې له نژدې ووینم».

ما ویل ولې نه؛ یو ورځ به دې ورسره لیده کاته وشي.

ده ویل:« هرو مرو به یې ګورم

# څلورم څپرکی

د خپلې تجربې په بري څه موده ښه خوشحاله وم، د ورځې به یو ښه ډاکټر وم، تر ناوخته به په کتنځي کې د ناروغانو په کتنه او درملنه بوخت وم، خو د شپې به مې خپل دویم شخصیت راڅرګنداوه او چې څه به زړه مې غوښتل «نه» مې په کې نه کول.

په پیل کې به مې؛ له ډاکټر هنري جیکال څخه ایډورډ هایډ ته په اوښتو دوه درې خوراکه درملو کار کاوه، اووني لس ورځې وروسته چې به مې غوښتل له هنري جیکال نه هایډ شم نو په ډېرو لږو درملو به اوښتم، خو له هایډ څخه جیکال ته په اوښتو کې لږو درملو کار نه کاوه. دې مسالې یو څه اندېښمن کړم، خو د هایډ په شخصیت کې مې دومره خوند احساساوه چې دې فکر ته به یې هېڅو پرېښودم نه.

د «ایډورډهایډ» په توګه مې شپې ډېرې خوندورې وې، چې څه به مې غوښتل کولای مې شول، څوک نه وو؛ چې مخه مې و نیسي. پوهېدم چې له رسوایې هم خلاص یم، خو یوې ناځاپي پېښې مې د خیال دا مانۍ ولړزوله.

یوه شپه تر سیل او تفریح وروسته په مستیو کې غرق د کور پر لور راروان وم، خپلې ازمېښتخونې ته چې راورسېدم او کونجی مې په دروازه کې ورننه ایسته، له شا راباندې غږ وشو:

«لکه چې ښاغلی هایډ یې؟»

مری مې وچه شوه، په نبنتي غږ مې وویل:

« څوک یې چې تر شا مې څارې؟»

چې مخ مې ورواړاوه، ګورم چې اټرسن ولاړ دی، له سترګو یې د کرکې بڅري اوري، خو ځان یې قابو کړ څه یې ونه ویل.

ورته ومې وویل: « هو! هاییډ یم؛ ایډورډ هایډ، څه مو ویل؟»

«تاسې لکه چې ډاکټر جیکال ته ورځئ؟»

« زما هم دوست دی، زه اټرسن یم، زه هم غواړم ورسره ووینم، راځه یوځای به ورشو».

زړه مې په درزېدو شو، چې اټرسن دلته څنګه لکه د خرېږي راشین شو، څه ته یې زړه دی.

نه نه .... له دې ځایه یې باید قدم مخکې هم پرېنږدم.

ورته ومې ویل: « ډاکټر جیکال دا مهال کور کې نشته».

« بنه چې نشته؛ نو زه ولاړم».

دا یې وویل، سر یې د درناوی په دود ټیټ کړ او ز یاته یې کړه:

«خوښ شوم چې تاسې مې هم ولیدئ».

ورته ومې ویل: «زه هم..... هیله ده چې بیا سره ووینو، ډېر ژر......»

د اتړسن خوله بنده شوه، ځان یې قابو نکړای شو، ما ورپورې په زړه زړه کې خندل، هغه پوهېده چې زه د ډاکټر جیکال پر کړي وصیت خبر یم او اخر به داسې ورځ راشي چې د خپل مال بیه به پرې کړي.

دروازه مې پرانیسته، ازمېښتخونې ته ننوتم، په زوره زوره مې وخندل. اتړسن خوارکي ته ګوره، هڅه کوي چې خپل دوست له خطرناک دښمنه وژغوري، خو لا خبر نه دی چې دا (هایډ) یې د دوست ډاکټر جیکال دویم شخصیت دی.

په ازمېښتخونه کې پراته درمل مې تیار کړل او پر سر مې راواړول، هډوکي مې لکه چې ماتېږي، په بدن کې مې د سخت درد څپې راپورته شوې.... څو شېبې وروسته له هایډ نه پر جیکال واوښتم.

له ازمېښتخونې ووتم، په بڼ کې څو قدمه وګرځېدم، ستړی وم، بېرته خپلې بسترې ته راغلم چې لږ غونډې ارام وکړم، بیا به راته د ناروغانو کتارونه لګېدلي وي. پر تکیه مې سر کېښود او درانه خوب یوړم.

سهار چې مې سترګې پرانیستې؛ نو ځان راته بل بل ډول ښکاره شو، هېڅ نه پوهېدم چې څه شوي، خوا و شا مې وکتل، ځای مې هماغه و چې د شپې په کې ملاست وم، څراغ او څوکۍ مې پر خپل ځای پراته وو، پر کټ خپره روجایی مې هم هماغه وه چې پرې ویده شوی وم.

شېبه وروسته مې خپلو لاسونو ته پام شو، بس پر هر څه پوه شوم، دا لاسونه د ایډورډهاییډ وو، له بسترې مې ټوپ کړ؛ هنداري ته ودرېدم.

ګورم چې په مخکې مې ایډورډهاییډ ولاړ دی!!!

دا مې چې ولیدل، په رګونو کې مې وینه وچه شوه.

هنري جیکال ویده شوی وم او ایډورډهاییډ راپاڅېدم.

دا څرنګه وشو؟

اوس به څه کوم؟

ژر ژر مې چېن واغوسته او ازمېښتخونې ته ولاړم چې درمل وڅښم او هنري جیکال شم. په بڼ کې چې تېرېدم خپل ملازم «پول» مې ولید چې سهار وختي د هاییډ په لیدو اریان دریان و. خوله مې ورته جینګه کړه او ترې تېر شوم.

لس دقیقې وروسته د ناشتې مېز ته بیا هنري جیکال ناست وم، خو په خوند یې هېڅ پوه نشوم.

# پنځم څپرکی

د نن سهار پېښې سخت ووېرولم. چې ويده کېدم؛ هنري جيکال وم، خو چې راويښ شوم، نو ايډوږډهايډ رانه جوړ شوی و. د شخصيت د ادلون بدلون دا پېښه دا ځل له درملو پرته شوې وه، هېڅ پرې نه پوهېدم چې دا ولې؟

په ياد مې دي چې شيطان صفته ايډورهايډ لومړی ځل راڅرګند شو، نو خورا کمزوری او وړوکی و، خو ورو ورو غښتلی کېده، اوس دومره ځواکمن شوی و چې پر شريف ويده انسان لاسبری شو، د ده؛ دې ورځ تر ورځې غښتلتيا زه وارخطا کړم. د بدن له غټېدو سره سره يې ناسم کړه وړه هم ورځ تر بلې زياتېدل. دا نو ډېر ستونزمن حالت و.

ژمنه مې وکړه چې دشخصيت د بدلون درمل د تل لپاره پرېږدم او د ايډورډ هايډ له وجوده د تل لپاره لاس ومنيځم. د هايډ جامې او سوهو د کوټې کونجيانې مې چېرته لرې کېښودې. اوس زما يوازې يو شخصيت دی، ډاکټر هنري جيکال.

پر خپله ژمنه ټينګ وم، له هايډ سره مې د تل لپاره مخه ښه وکړه، په دې کې دوه مياشتې تېرې شوې، شريفانه ژوند ته د راستنېدلو په خوښۍ کې مې دوستانو ته مېلمستيا وکړه.

د مېلمستيا پر شپه زما نوکر پول تر نورو ډېر خوشحاله و، ويل يې:

«ښاغليه! ښه مو وکړل چې موده پس مو بيا دوستان راوبلل»

« هو؛ پول! ډېر وخت شوی و، چې له دوستانو سره ناست نه وم».

مېلمستیا ته مې ډېر دوستان رابللي وو، په منځ کې یې اټرسن او ډاکټر لين يڼ هم وو.

ډوډی مو ښه په خوښی وخوړه ، د ډوډی په منځ کې ډاکټر لين يڼ ودرېد؛ خپل ګیلاس یې پورته کړه او زه یې مخاطب کړم:

« ډاکټر هنري ! خوښ یو چې له تاسره مو بیا لکه د پخوا په شان لیده کاته وشو، که نه له ډېرې مودې راهیسې خو دې راسره تګ راتګ او ناسته ولاړه بیخي پرېښې وه».

ورته ومې ویل:« ستا خبره سمه ده، زه هم اندېښمن وم؛ چې لیده کاته مو سره کم شوي وو، خو تر دې وروسته به داسې نه کېږي اوس به هر څه سم شي».

ډاکټر يڼ چې زما خبره واورېده چې هر څه به سم شي، نو ویې ویل: « د سمو حالاتو مطلب دا چې ته له خپلې پخوانی نظریې تېر شوی یې». ویې خندل او اټرسن ته یې مخ ورواړاوه:

« اټرسن ستا خو په یاد دي؛ چې هنري ادعا کړې وه، چې یو لوی راز یې موندلی دی چې له مخې یې انسان پر دوو جلا جلا شخصیتونو وېشل کېدای شي... یو ښه او بل بد شخصیت .... یو انسان او بل شیطان!».

ما په بخاری کې لکېدلی اور اړوه را اړوه، ورته ومې ویل:

« هو ډاکټر لین ین! زه اوس له دې نظره اوښتی یم».

په خوله خو مې دا وویل خو په دننه کې له غوسې سوځېدم. زما نظریه سمه وه. خو ډاکټر لین ین راپورې خندل او زه له غوسې تور و شین کېدم .

منم چې له هایډ شخصیت مې سره د تل لپاره مخه ښه کړې وه، خو دا نشم زغملی چې نظریې ته مې دې څوک ناسمه ووایي.

اټرسن خپل جیبي ساعت ته وکتل :

« اوهو! داخو لس بجې دي؛ زه درنه ځم، له یوه چاسره مې ژمنه کړې، یو څه اسناد ورته باید چمتو کړم».

ډاکټر لین ین هم پاڅېد او ویې ویل: زه هم ځم هنري! د مېلمستیا له کبله دې مننه کوم، داسې بلنې به روانې ساتو په تاپسې زما وار دی، بله ورځ به زما مېلمانه یاست.

د خدای پامانی لپاره ورسره تر دروازې ولاړم، داړ چینګی مې ورسره کاوه، خو په اصل کې غوسه وم.

دروازه چې مې وتړله، نو پول ته مې وویل:

« په ازمېښتخونه کې تر ناوخته کار کوم، څوک مه راپرېږده.

اوس نو په ازمېښتخونه کې د هغې ژمنې چې نور به هېڅکله د ایډورډهایډ شخصیت ته نه اوړم، د ماتونې په تکل کې یم. دا اړتیا نه وینم چې درته ووایم چې په ازمېښتخونه کې مې څه وکړل، خو

يوازينى كار چې ډېر اربې ورته نيولى وم، دا و چې ځنګه ايډورډهايډ شم.

په ربړډېدلو لاسونو مې سپين پوډر په سره محلول کې واچول، له محلوله تپ پورته شو، تپ يې چې کښاست نو پر سر مې راواړاوه، يوه شېبه مې ساه بنده شوه، ورپسې د هنر جيکال ورکېدل پيل شول، څو شېبې وروسته په ازمېښتخونه کې د جيکال پر ځاى هايډ ولاړ و.

ايډورډهايډ چې راڅرګند شو، دا نو د ليدو خبره ده چې څه ډول و. دوه مياشتې مې بند کړى و، د راښکاره کېدو اجازه مې نه وه ورکړې، دا ځل له خپل پوره خباثت سره راڅرګند شو، بس کټ مټ لکه يو شيطان چې مې مخې ته ولاړ وي.

د هايډ جامې مې واغوستې او بهر راووتم، شپه نيمايي ته نژدې وه اود لندن پر سړکونو چوپه چوپتيا وه. ګړندى ګړندى تلم، ومې ليدل چې مخې ته مې يو څوک راروان دى، چې رانژدې شو نو يو بوډا و، د سپوږمۍ رڼا ته يې سپين ويښتان ځلېدل، چې ښه رالنډ شو، ورته ځېر شوم نو ومې پېژانده چې ښاغلى «ډينور کريو» و؛ چې غالبا د «اټرسن» ليدو ته روان و.

بوډا «ډينورکريو» چې زه په خندا وليدم؛ نو ښه نيولى شو، په سترګو کې يې د مهربانۍ او خلوص نښې له ورايه ښکارېدې، راته موسک شو او د لارې پوښتنه يې راڅخه وکړه.

خدای پوهېږي چې د هغه دې مهرباني او له خندا ډکې خبرې راباندې ولې اور بل کړ، هغه لا نور هم څه ویل چې ما خپله امسا پورته کړه او بې واره مې پرې څو ګوزاره وکړل. له ویرې او اریانتیا نه یې خوله وازه پاتې شوه، چې دې حالت یې ما ته د خوښۍ یو ډول احساس راکړ. بل ګوذار مې پرې وکړ چې ډېره مزه یې راکړه بیا مې پرې پرله پسې څو نور لېوني لېوني ګوذارونه وکړل، دومره مې وواهه چې راولوېد او بې هوشه شو، بیا مې هم زړه صبر ونه کړ او په پړتو مې څو ګوذاره وواهه. د یوه بوډا له وهلو مې ډېره مزه واخیسته.

ناڅاپه مې چیغه تر غوږ شوه، چې مخ مې ور واړاوه نو خپله نوکره «ایمینډا» مې ولیده، چې زما د کور په کړکۍ کې ولاړه ده او دا هر څه ویني.

هغې چیغې کړې:

«پولیس!! پولیس!!! پولیس!!!! هلئ .... هلئ مرسته وکړئ، سړی یې وواژه!»

په وروستي ځل مې پرې بیا یو کاري ګوذار وکړ، چې امسا مې هم ورسره ماته شوه، چې کور خواته مې وکتل نو «ایمینډا» لا همغسې ولاړه ده او چیغې وهي.

په دې شور او چیغو سره د خواو شا کورونو خلک راویښ شول، څراغونه یې روښانه شول.

ایمینډا په یوه ساچېغې وهي:

« هغه دی قاتل لا هم ولاړ دی....... وېې نیسئ ..... چې درنه خلاص نه شي.... زه یې پېژنم ..... همدا ایډورډ هایډ دی!!

فکر مې وکړ چې د ایمنډا چېغې خو ټولو خلکو واورېدې، اوس به له کورونو راووځي او کلک پلک به مې ونیسي، نو له هغه ځایه مې دوه خپلې دوه پردی کړې او مخ په سوهو شوم. شپه مې هلته تېره کړه. د دې قتل په اړه لا ډېر خلک خبر نه وو. ټوله شپه مې بنه شراب وڅښل، تر غوړونو په عیاشی کې ډوب وم او له دې ټولو ور اخوا ډېر خوښ پر دې وم، چې یو بې ګناه کس مې له تېغه تېر کړی و.

سهار نژدې و، غلی له سوهو راووتم او مخ پر کور شوم، د دېوالونو سیورې ته مې په تیاره تیاره کې ځان تر کوره ورساوه او په ازمېښتخونه ورننوتم. هلته مې د شخصیت بدلوونکي درمل تر ستوني تېرکړل، بېرته ډاکټر هنري جیکال شوم.

هنري جیکال شخصیت ته په اوښتو پرخپلو کړو ډېر پښېمانه شوم. پر ځمکه کېناستم او په زوره زوره مې وژړل، ایډورډهایډ خو تر دې وړاندې هم خلک ځورولي وو، وهلي یې وو، خو دا ځل یې د نور کله پرخلاف یو یوډا په مرګ وواهه.... یو نېک انسان یې وواژه.

له ازمېښتخونې راووتم پر خپل ځای ځملاستم او ویده شوم. هڅه مې کوله چې د دې شپې پېښه هېره کړم، خو په خوب کې به مې د بوډا«کریو» څېره، د ایمنیډا چېغې او خپله په و ینو ککړه امسا... بیابیا لیدل.

ستړګې چې مې پرانستې، نو خبرې مې تر غوږه شوې، کړکۍ ته مې سر ورپورته کړ چې وګورم څه دي، پر سړک ورځپاڼه په لاس یو هلک ولاړ و. د ورځپاڼې سرلیک دومره لوی و چې ان له کړکۍ مې ولوستی شو:

بشاغلی کریو ووژل شو ـــ د ایډورډ هایډ د موندنې هڅه

د ورځپاڼې ټول مخ د قتل اړوند رپوټونو نیولی و، ایمنډا د سترګو لیدلی حال ټولو ته ویلی و، زما ( ایډوردهایډ) څېره یې هم ورته تشریح کړې وه، د کومې له مخې چې یو فرضي انځور جوړ او په ورځپانه کې خپور شوی و.

له کړکۍ راشاته شوم. د قتل خبر اوس ډېر عام شوی و. دې کې نو اوس هېڅ شک نه و، چې پولیس د هایډ د موندلو هڅه کوي هر څېرې چې یې ونیوه له اعدامه پرته بله لار ورسره نه کوي.

اوس باید څه وکړم . زما د ژغورنې یوازې یوه لار وه او هغه دا چې له هایډ شخصیت سره د تل لپاره خدای پاماني وکړم. نور نو باید یوازې هنري جیکال واوسم او بس.

تر لږ ځنډ وروسته مې خپل نوکر ته غږ کړ:

«پول!»

«صیب! ».

راغی او په درناوي مې مخې ته ودرېد.

«کتنځی پرانيزه – دناروغانو د راتګ وخت دی».

«په سترګو صيب» يې ووېل او بيا يې خبره پسې وغځوله:

« ښاغليه! هغه دردوونکی خبر مو واورېد... د ډينورکريو په باره کې! ».

« هو پول، وامې ورېد... د هايډ اصليت هم راته معلوم شو.... کور ته مې بايد نه وای راپرېښی.... خو خير نور به له دې ځايه ورک شي او کله به هم راته خپله بدرنګه څېره ونه ښيي...»

پول راغبرګه کړه: « زما هم همدا باور دی چې نور به دېخوا مخ هم راوانه ړوي- ځکه ټول خلک ورته دومره غوسه دی چې له اعدام پرته په بل هېڅ شي يې نه رضا کېږي».

« هو! همداسې ده!.... څه ته اوس کتنځی پرانيزه .... نن غواړم چې ډېر ناروغان وګورم».

شېبه وروسته کتنځي ته راغلم، ډېر ناروغان راته په تمه وو، په بوره صداقت مې يې درملنه پيل کړه... د ايډورډهايډ د شيطاني حرکت جبيره مې غوښته.... کومه ګناه چې يې کړې وه، هغه مې کوله چې په نېکی سره يې پرېمينځم.

د شپې تر ناوخته مې ناروغان وکتل، ستړی شوم خپل ځای ته راغلم او ويده شوم.

خو زما په ذات کې چې د ایډورډهایډ کوم وجود و؛ هغه کنې له منځه تللی و؟

نه! هغه لا هم ژوندی و.... زه پوهېدم چې هغه په دې هڅه کې دی؛ چې زما له ذاته راووځي.

یوه ورځ د ناروغانو په کتلو کتلو ډېر ستړی شوم، د تازه هوا لپاره یوه نژدې پارک ته ولاړم، پسرلی نژدې و او موسم هم ډېر خوندور و. د پارک کې په هره خوا کې د مرغیو چاږ چوږ و، د لمر پستو وړانګو بدن ته یو ډول نرمي او تودوالی ورباښه. پر یوه څوکۍ کېناستم او د پارک له سمسورتیا، د مرغیو له چاږ چوږ او د هوا له مستو ونکو وږمو مې خوند اخیست، سترګې مې پټې کړې او د فکر نیلی مې د سوهو د یوې شپې پر لور چې ډېره په عیش و نوش مې تېره کړې وه، والوت.

نابېره مې طبیعت خراب غوندې شو، د درد یوه مرګانی څپه راباندې راغله، دومره چې ان له څوکۍ یې راوغورځولم. شېبه وروسته چې راپورته شوم، نو حالت مې یو څه ښه شو، لاسونو ته مې پام شو– له وېښتو ډک او ډېر واړه شوي وو، ګورم چې بیا رانه ایډورډهایډ جوړ شوی دی.

سا مې ورېده، خواوشا مې وکتل چې چا خو به نه یم لیدلی، خو نور څو؟

خبره مې نژدې په هره ورځپانه کې چاپ شوې وه، زړ ده چې وپېژندل شم او داعدام رسی مې غاړې ته پرېوزي.

هېڅ نه پوهېدم چې څه وکړم؟

چېرې ولاړ شم؟

که کور ته ولاړ شم نو پول به سمدلاسه پولیس راخبر کړي چې ایډورډهایډ راغلی دی.

په سوهو کې مې کرايي کوټه هم په امن کې نه وه.

بېټ مخ په پارک کې ګرځېدم راګرځېدم.

د پارک په دروازه کې مې یوه ټانګه ولیده، په یوه ترپ ورو ختم، خومخ مې داسې پټ کړی و چې ټانګوال هم نشوم لیدای. فکر مې کاوه چې چېرې ولاړ شم، د ښار په بل سر کې یوه زوړ هوټل ته مې پام شو، کېدای شي هلته بچ شم.

ټانګوال ته مې وویل: «پورټ لینډسټریټ هوټل ته ځه»

تر هوټله لاره یو څه اوږده وه، په ټانګه کې محفوظ هم وم او د ځان په اړه د فکر وخت هم راسره پیدا شو. په فکر فکر کې مې یو پروګرام جوړ کړ.

«پورټ لینډ سټریټ» هوټل چې ماته څومره یاد دی په یوه تنګه او تیاره کوڅه کې دی. ورورسېدم، یوه بوډا نوکر د هوټل په شاتنی برخه کې له لارې، یوې نسبتا چپې کوټې ته بوتلم.

اوس بو څه محفوظ یم، خو ترکومه؟

کوټې ته له رسېدو سره سم مې د هوټل نوکر ته وویل چې قلم او کاغذ راته راوړي.

دوه لیکونه مې ولیکل.

یو د ډاکټر لین ین په نامه. مرستې ته اړ وم ، خو اټرسن ته ورتلای نشوم، ځکه هغه ایډورډهایډ لیدلی و. لین ین هایډ نه و لیدلی نو پېژندلی یې هم نشو.

ډاکټر لین ین د خپلې نظریې له امله پوره مسخره کړی وم، خو اوس مې غوښتل هماغه شیان

( درمل) د ده په ذریعه ترلاسه کړم، کومو ته چې دا مهال سخت اړ وم.

ډاکټر لین ین ته مې ولیکل:

ډاکټر لین ین!

زما ګرانه ملګریه!

دا مهال ستاسې مرستې ته سخت اړ یم. پوهېږم چې دنظر اختلاف مو سره ډېر زیات دی، خو دا وخت د دې خبرو نه دی. زما د مرګ او ژوند مساله ده. که زما مرستې ته دې راونه دنګل، نو لاس راځخه ومینځه. د خدای ج لپاره څه چې درته لیکم هماغسې وکړه.

ماښام زما کور ته ورشه، پول به درته ور پرانیزي ..... مخامخ به زما ازمېښتخونې ته ننوزې........ هلته زما مېز دی، پر یوه دراز

يې « E » توری لیکل شوی...... دراز به راکش کړې سپین رنګه پوډر او سور محلول به تړې راواخلې او خپل کور ته به یې راوړې.

پوره دولس بجې به دې، یو ټیټکی سړی دروازه دروټکوي، ما به دراستولی وي، درمل به ورکړې.

بس همدومره مرسته دې غواړم. که په دې کې ناغیړي وکړې، نو ما ته له مرګه پرته بله لار نه ده پاتې.

ستا دوست

ډاکټر هنري جیکال

بل لیک مې خپل نوکر پول ته ولیکه:

ګرانه پوله!

زه چېرې ولاړم ، کېدای شي څو ورځې رانشم. بېګا ته ډاکټر لین ین درځی..... ور به ورته پرانیزې، او مخامخ به یې زما ازمېښتخونې ته بوزې. زما د مېز په یوه دراز کې څه درمل دي هغه له ځان سره وړي.

پام دې وي چې هغه دا هرڅه زما په لارښوونه کوي، هر ډول مرسته چې غواړي ورسره ويې کړه.

منته

ډاکټر هنري جيکال

..........................

د هوټل يو نوکر مې راوغوښت، دواړه ليکونه مې ورکړل او ورته ومې ويل چې پر ليکليو پتو به يې ورسوي، ښې پوره پيسې مې هم ورکړې چې ورسپارل شوی کار سم ترسره کړي.

ليکونه مې واستول اوس نو د شپې په انتظار يم، د «پورټ لينډ سټريټ» په تنګه او تياره خونه کې مې په انتظار انتظار ورځ تېره کړه. کله چې په نژدې معبد کې د شپې د يوولسو بجو ستن وکړنګېده، نو زه له خپلې کوټې راووتم او په تياره تياره کې مې د ډاکټر لين ين د کور لار ونيوله.

پوره دولس بجې مې د ډاکټر لین ین دروازه ورووټکوله. مخامخ مې یوه پولیس ته پام شو چې زما پر لور راروان و، وېرې واخیستم، خو له نېکه مرغه څو چې هغه رارسېده، لین ین دروازه پرانیسته او زه ژر ننوتم.

لین ین وپوښتلم: « هنري جیکال را استولی یې؟»

ما ویل «هو».

له دې وېرې مې چې په ورځپانه کې یې زما انځور شوې خبره نه وي لیدلې او ومې نه پېژني؛ مخ هم نه وراړوه، خو د سترګو له کونجونو مې ورته کتل، له تندي یې مالومېده چې ښه پرې نه لګېدم.

ومې پوښت: « هغه درمل دې راوړي دي»؟

د « هو » په اورېدو سره مې په ډېره ناکرارۍ له لاسه ټینګ ونیوه، شاته شو راته ویې ویل:« لږ صبر وکړه زه نه پوهېږم چې ته څوک یې؟ – یوه شېبه کښېنه»

کښناستم، هڅه مې وکړه چې ځان آرام وښایم خو ومې نشوکړی.

په لړزېدلي غږ مې ورته وویل:

« وبښئ دا ډېره مهمه مساله ده..... د مرګ او ژوند خبره ده.... دغه شیان باید ډېر ژر هنري جیکال ته وروړسوم..... ډېره بیړه باید وکړم....»

لین ین راته ځیر شو، پوه شو چې درملو ته مې ډېره بیړه ده. ما ته هم پته ولګېده چې لین ین غوښتل چې پر اصلي مساله پوه شي.

راته ویې ویل: « درمل په هغه دراز کې پراته دي، ګوره هغه د مېز تر شا فرش باندې».

سپک وربپورته شوم او د دراز پر لور مې ورغوټه کړه، چې راپورته مې کړ نو لاس مې رېږدېده. ومې لیدل زما د اړتیا وړ ټول شیان پکې دې، نو له خولې مې چیغه ووته.

ډاکټر لین ین ته مې وکتل هغه اریان دریان او خپه ولاړ و.

ورته ومې ویل:« یو ګیلاس مې په کار دی».

ګیلاس چې یې راکړ، لومړی مې پکې سور محلول واچاوه او بیا مې ورسره یو څه سپین رنګه پوډر ګډ کړل. پوډر سره له دې چې ډېر کم هم وو، خو چې په محلول کې مې واچول تپ او بړاس غوندې یې وکړ، ګیلاس مې په لاس کې ونیوه او په خندا خندا مې ډاکټر لین ین ته وویل: « ښه، اجازه راکوې چې دراز او ګیلاس واخلم او درڅخه رخصت شم او که غواړې پوه شې چې د دې محلول تر څښلو وروسته څه پېښېږي؟»

ډاکټر لین ین په حیرانتیا وویل:

« ویې څښه، خو دا شیان.... دا خو ډاکټر جیکال غوښتي وو».

ورته ومې ویل: « ډاکټر جیکال چې څه غوښتي وو، اوس به وروسته ېږي.... ما ته دا ووایه چې زه ایسار شم او که ولاړم شم.... ته چې څنګه غواړې هماغسې کوم.... خو دا هم درته وایم چې د ګیلاس تر څښلو وروسته چې څه ووینې؛ هغې سره به ستا دا نظریه چې اوس یې لرې؛ پاتې نه شي..... سترګې به دې خلاصې شي.... ښه فکر وکړه بیا راته ووایه چې څرنګه وکړم».

« ته ساعت تېروې» ډاکټر لین ین دا وویل او څو ګامه راڅخه وړاندې شو... زه غواړم چې په اصل مساله پوه شم.... ته دې محلول وڅښه چې زه پوه شم چې څه پېښېږي».

« ښه سمه ده» ورته ومې ویل:« فکر دې اوسه چې ته یو ډاکټر یې، څه چې ووینې هغه به نه رسوا کوې.... دا به زما او ستا تر منځ یو راز وي.... هن، ووینه، په ما پورې به دې خندل او زما نظریې به دې مسخره بللې».

دا مې وویل او ګیلاس مې پر سر راواړاوه په یو ګوټ کې ټول درمل وڅښل. له خولې مې سخت زګېروی ووت، رپ راباندې راغی، مېز ته مې لاس واچاوه خو ځان مې ټینګ نه کړی شو، پر ځمکه راپرېوتم. څو شېبې وروسته چې راپه خود شوم، نو د ډاکټر لین ین په مخکې د ایډورډ هایډ پر ځای ډاکټر هنري جیکال ولاړ و.

«نه.... نه....نه ! داسې نه شي کېدی» د ډاکټر ین اواز ډډ شو« دا نه شي کېدای.... داسې هېڅکله نه شي کېدای»

په ورو مې ورته وويل: « لين ين! همداسې ده، دا يو حقيقت دی..... داسې کېدای شي.... دغه دی وشول».

بيا مې ډاکټر لين ين ته له پيله تر پايه ټوله کېسه ټکی په ټکي وکړه، زما هره يوه خبره چې به يې اورېده، له حيرانتيا به يې وېښته درېدل.

يوه ګړی وروسته ترې رخصت شوم او خپل کور ته ولاړم.

ددې حادثې د لېدو له امله هغه ته دماغي تکليف پيدا شو او له خبرې يې معلومېدل چې ډېرې ورځې به ژوند پاتې نشي.

اتم څپرکی

له ډاکټر لین ین څخه چې راووتم، د کور لار مې ونیوه، په کور کې ښه ارام ویده شوم، نه پوهېږم چې څومره خوب به مې کړی وي، خو چې راپاڅېدم نو ډېر ډاډه وم، ځکه په خپل کور کې وم او درمل مې هم رسره وو.

پول راته له معمول سره سم سباناری تیار کړ، سباناری مې چې وکړ، په باغ کې ګرځېدو او تازه هوا ته مې زړه وشو، څو قدمه مې لا اخیستي نه وو چې رپ راباندې راغی، ازمېښتخونې ته مې منډه کړه، لا رسېدلی نه وم چې ایډورډهاییډ راڅخه جوړ شو.

ازمېښتخونې ته ننوتم، د مېز دراز مې راپرانیست، درمل په کې پراته وو، سره ګډ مې کړل او ومې څښل، خو یو خبره وه چې د جیکال کېدو لپاره باید په محلول کې سپین رنګه مواد ښه ډېر کړم، له دې سره به هم تر شپږو ساعتو زیات جیکال نه پاتېدم. خبره دېته ورسېده، چې د جیکال شخصیت د ساتنې لپاره باید ژر ژر درمل وخورم، که لږه شېبه هم وېده شم نو ایډورډهاییډ راڅخه جوړېږي، بدمرغي دا وه چې هاییډ ورځ تر ورځ غښتلی کېده او جیکال مخ پر ځوړ و.

هېڅ نه پوهېدم چې څه وکړم. شپه و ورځ؛ بلکې ټول عمر باید په ازمېښتخونه کې واوسم، پول به راته خواړه راوړل د ازمېښتخونې په دروازه کې به یې ایښودل، چې هغه به ولاړه ما به دروازه پرانیسته خواړه به مې راواخیستل او بېرته به مې وتړله

بلخوا سپين پوډر په خلاصېدو وو. د پوډرو نوم به مې پر کاغذ وليکه له دروازې بهر به مې کېښود او پول ته به مې دا هم وليکل چې د لندن درملتون په درملتون وګرځه او هرو مرو يې پيدا کړه، هغه بېچاره به همداسې کول؛ پوډر به يې په ډېره سختۍ پيداکول، خو په دې پوډرو کې هغه د لومړنيو غوندې اغېز نه و. هغه لومړني پوډر بيا هېڅ پيدا نشول.

چې د هايډ په بڼه به واوښتم نو زړه به مې غوښتل چې خپله ازمېښتخونه په بله راواړوم، سم زندان ترې جوړ شوی و، زړه مې کېده چې ترې ووځم او چېرته لېرې وتښتم، خو د نيول کېدو او اعدامېدو وېرې به مې د خيال وزرې وسوځولې.

ما غوښتل چې هنري جيکال اووسم، د دې يوازينۍ لاره همدا پاتې وه چې هايډ شم نو سمدلاسه درمل وخورم او بيرته د جيکال په بڼه واوړم.

يو ماسپښين مې اواز تر غوږ شو؛ چې د ازمېښتخونې کړکۍ مې پرانيسته؛ نو ګورم چې «اټرسن» او د تره زوی يې «اين فيلډ» دواړه ولاړ دي.

ځواب مې ورکړ او د موسېدو هڅه مې هم وکړه.

اټرسن وويل: « سلامونه! اوس لکه چې يو څه ښه شوی يې څو واره راغلم چې له نژدې دې ووينم خو پول به راته ويل چې ښه نه دی، لين ين هم ناروغ دی... دا څه درباندې شوي تاسې دواړو ته مې زړه خپه دی...»

ورته ومې ویل: « هو ولا چندان مزه مې نشته».

اټرسن راغبرګه کړه:« ځان دې په ازمېښتخونه کې بندي کړی.... دا دې روغتیا ته تاوان رسوي.... داسې مه کوه».

هغه او این فیلډ اوس کړکۍ ته بالکل رالنډ شوي وو. این فیلډ راغږ کړ: « بهر راووځه چې چکر ووهو».

اټرسن ورسره غبرګه کړه: « هو ربښتیا وایي، امسا او چترۍ دې هم راواخله او راووځه».

« تاسې ښه وایې.... زما هم زړه کېږي چې چکر ووهم... خو نه یې شم کولای.... بهر نشم راوتلای.

اټرسن ته چې مې کتل، له خبرې یې معلومېده چې زما په اړه په ربښتیا هم اندېښمن دی. زیاته یې کړه: « ښه سمه ده چې ته نشي تللی نو موږ به همدلته درشو یو شېبه به سره کېنو غږه وړه به سره ووایو».

این فیلډ وویل: « خبر یې! پولیسو د کریو د قاتل د نیولو هڅې ګړندۍ کړي دي ... بس دې ورځ نیمه کې به یې ونیسي».

اټرسن پسې زیاته کړه: « هنري ! ډېر ښه وشو چې ته خو له دې شریر دوست ایډورډ هاییډ نه تل لپاره بېغمه شوې».

ورته ومې ویل: « کاشکې له اوله مې پېژندلی وای» بس دا خبره وه چې رپ راباندې راغی زما دا لړزنده حالت دوي هم ولید، له کړکۍ

مې ځان شاته کړ، په زوره مې بنده کړه او پرده مې رابنکله، بس په همدومره وخت کې زه ایډورډهاییډ شوی وم. د پردې له سوریو چې مې کتل نو دوی حیران او خپه ببرته روان و.

خدای پوهېږي چې څه تماشه به يې لیدلې وي.

## نهم څپرکی

سهار مې ورځپاڼه؛ چې پول راته په دروازه کې ایښې وه، پرانیسته؛ نو د ډاکټر لین ین د مړینې خبر مې په کې ترسترګو شو، له ما پرته بل هېڅوک نه پوهېدل چې ډاکټر لین ین ولې مړ شو، هغه وېرېدلی و، د هغه قاتل هم هغه کس و، چې «ډینور کریو» یې وژلی و، یانې «زه!»

اوس زما کېسه ختمېدو والا ده، سپین پوډر هم راسره نور نشته، وروستی خوراک مې یې دوه ساعته وړاندې تر ستوني تېر کړ، بس له یو دوو ساعتونو زیات وخت راپاتې نه دی...دتل لپاره به راځخه ایډورډهایډ جوړ شي،د هنري جیکال کېدو لپاره راسره اوس هېڅ طریقه نشته.

هغه سپین پوډر مې بیا هېڅ ونه موندل، چې په پیل کې مې کارول، هغه ډېر ښه پوډر وو، زه نه پوهېږم چې دا وروستي هغه ولې هغومره اغېزمن نه دي. د دروازې ټکاری مې تر غوږ شو، کېدای شي پول وي، هغه هم پوه شوی چې څه مساله شته.

په یوه سا چیغې وهي« ښاغلیه! ور پرانیزئ- تاسې ښه نه یاست».

زما ډېر باوري نوکر پول اندېښمن دی چې زه مړ نه شم.

زه ورته له دننه چیغې وهم چې « ځه ولاړ شه... که موخه دې له ماسره مرسته وي، نو همدا لویه مرسته ده چې یوازې مې پرېږدې».

يو بل غږ مې واورېد، خدايه دا به څوک وي؟

اوهو دا خو اټرسن دی!

جيکال!!

پول راغوښتی يم هغه وايي چې له څو اوونيو راهسې يې نه يې ليدلی، پول راته دا هم وويل چې له ازمېښتخونې دې کله کله د چا د خبرو غږ هم راځي، له هغه سره انديښنه ده چې ايډوردهايډ دربانديې څه نه وي کړي؟

زه ورته له دننه چېغې وهم:« له دې ځايه ولاړ شئ- د خدای ج لپاره ما يوازې پرېږدئ- يوازې مې پرېږدئ- تنګوئ مې مه»

اټرسن راغبرګوي:« ستا ژوند ته خطر دی يوازې دې هېڅکله نشو پرېښودای- هرو مرو بايد دننه درشو- دروازه ماتوو».

زه نو ورته نور هېڅ نشم ويلای ، ځکه فايده نه کوي، لږ وروسته به هغوی دروازې راماتې کړي – دننه به راشي خو زه به نه يم. زما دا ليکنه به وويني، وبه يې لولي او زما له دې بدمرغه برخليکه به خبر شي. غواړم يو بل راز هم ووايم  دلته زما خواته پر مېز باندې يو ګيلاس دی په دې کې هم يو قسم درمل دي – دا داسې زهر دي چې په څښلو يې سم سمدلاسه سړی مري.

اوهو خدايه! هغوی د دروازې په ماتولو شروع وکړه- اټرسن او پول به اوس راننوزي- پر ما هم رپ ولګېد- ايډوردهايډ غورځې پرځې کوي چې زما په وجود کې راڅرګند شي. زه اوس هغه د

زهرو گیلاس ته لاس ور اوږدوم- گیلاس مې راواخیست.- هن دا دی پر سر مې رواړاوه - دا دی دواړه «هنری جیکال» او «ایډورډهایډ» مې د تل لپاره ختم کړل.

پای